پر ما داسې آيتونه نازل شول چې تر دې مخکې يې مثال نه دی ليدل شوی؛ معوذتين -الفلق او الناس سورتونه (-

له عقبة بن عامر رضی الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلى الله عليه وسلم ماته وويل: (پر ما داسې آيتونه نازل شول چې تر دې مخکې يې مثال نه دی ليدل شوی؛ معوذتين -الفلق او الناس سورتونه-).
[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

عقبة بن عامر رضی الله عنه خبر ورکوي چې نبي صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل: الله تعالى پر ما نن شپه داسې آيتونه نازل کړل چې تر دې مخکې يې مثال نه دی ليدل شوی – يعنې د استعاذې (پناه غوښتنې) په برخه کې – دا دواړه معوذتين دي: يعنې {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ} او {قُلْ أَعُوذُ بِرَبِّ النَّاسِ} سورتونه.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65448